# دَ باچا خان فلسفه

الحاج فضل الله رشتین

دَ پاکستان له نېشنل ټېلي ويژن څخه دَ باچا خان دَ دوه ويشتم تلين په مناسبت يوه خپرونه خپره شوه، په دې يو ساعته خپرونه کښې محترمې نسيم ولي خان، پروفيسر ډاکټر فضل رحيم مروت او ډاکټر خادم حسېن برخه اخستې وه. ما دَ دې ښکلې خپرونې په ترځ کښې دَ پاچاخان يو څو خبرې چې په 1986م کال کښې ئې يوې سترې غونډې ته کړې وې واورېدې او هغه مې ثبت کړې. هغه لنډې اما له مفهوم نه ډکې خبرې دا دي:

( په پښتنو کښې بُغض او کينه ده. يو پښتون دَ بل پښتون دشمن دے. اتفاق نشته، تهٔ زما په خوشحالۍ خوشحاله نۀ ئې او زهٔ ستا په خوشحالۍ خوشحاله نۀ يم. تهٔ زما خېر نۀ غواړې او زهٔ ستا خېر نۀ غواړم. تهٔ زما په بربادۍ خوشحالېږې او زهٔ ستا په بربادۍ خوشحالېږم. زهٔ تا وژنم او تهٔ ما وژنې.

نن څهٔ لږ ډېر اميد پېدا شوے دے چې دا ستاسو مينه، دا ستاسو محبت، دا ستاسو جوش او دا ستاسو احساس وينم.

خو اے ورونو پام وکړئ زهٔ تاسو ته اپيل کوم په مونږ خدائے فضل کړے دے، نن ئې مونږ راويښ کړي يو، مونږ ته ئې نن يوه جذبه راکړې ده. په مونږ کښې يو احساس پېدا شوے دے. زما دا خبره په ياد لرئ دا خلق په دې خوښ نۀ دي، دَ هم دې دپاره زهٔ تاسو ته وايم، دلته چې مونږ څهٔ کارونه کوو، هغه دَ ملك او خلقو دپاره کوو. زمونږ شريك ملك دے، مونږ ټول دَ يو بابا اولادونه يو، مونږ ټول پښتانهٔ يو. کوښښونه کېږي چې په مونږ کښې اختلاف پېدا شي.

زما تاسو ته دا عرض دے چې اے ورونو! خپل دوست او دښمن وپېژنئ، ګټه او نقصان وپېژنئ. کوښښ وکړئ چې څوك په مونږ کښې اختلاف پېدا نۀ کړي.

ما سره دا وعده وکړئ چې تاسو به کوښښ کوئ او خلق به پوهوئ. دا کوم احساس، دا کومه جذبه چې په مونږ کښې پېدا شوې ده دا وساتئ.

د کوم قوم چې دَ کرسۍ دپاره، دَ اقتدار دپاره شوق پېدا شي، نۀ په هغوي کښې اتفاق راځي او نۀ ترقي راځي.

نن وګورئ مسلمانانو ته! اسلام خو وررولي ده، آبادي ده. زمونږ څهٔ حال دے. تاسو اول دَ افغانستان خلقو ته وګورئ. دا جنګ دَ امريکې جنګ دے په مينځ کښې پښتانهٔ تباه کېږي. يو خوا پښتانهٔ او بل خوا پښتانهٔ. تاسو له ما سره وعده وکړئ چې دَ پښتون دَ يووالي دپاره به کار کوئ. )

دا دَ باچاخان خبرې وې چې له نن نه ئې 24 کاله دَ مخه کړې وې.

هغه دَ پښتنو په بې اتفاقۍ خفه ؤ، هغه دَ پښتنو په بربادۍ زوربدهٔ، دَ هغهٔ دَ پښتنو تر منځ دَ بُغض او کينې په خاطر پرېشان ؤ. دَ هغهٔ زړهٔ دَ يو پښتون په لاس دَ بل پښتون په وژلو غمژن او فريادي ؤ.

باچان خان پښتنو ته په ذهن کښې دا خبره اچوله او په غوږونو کښې ئې ورته دا خطر زنګ غږولو چې اے پښتنو ! دښمنان ستاسو په منځ کښې اختلاف اچوي او ستاسو دَ بربادۍ دپاره رنګارنګ سازشونه کوي.

د باچاخان په پورتنيو خبرو کښې دا فلسفه پرته ده او پښتنو ته دا پېغام پروت دے چې په منصب او په څوکۍ تېر نۀ وځي او خپله پښتو او پښتونواله له منصب او پېسو قربان نۀ کړي.

باچا خان په رښتيا يو ستر رهبر او مشر ؤ ، هغۀ په قام کښې اصلاح غوښتله، هغه پوهېدۀ چې پښتون قام بيمار دے، هغه دَ دوي په بيمارۍ پوهېدۀ، هغۀ لکه يو ډاکټر دَ پښتنو دَ بيمارۍ دَ علاج دپاره ډېرې نسخې وليکلې، کله چې باچا خان ژوندے ؤ نو دَ ګوتو په شمېر پښتنو دَ خپلې بيمارۍ دَ علاج دپاره دَ باچاخان له نسخو څخه کار اخستو خو کله چې هغه له مونږ نه دَ تل لپاره بيل شو نو اوس څوك له هغو نسخو څخه کارهم نۀ اخلي.

د باچا خان پورتنيو خبرو ته چې سړے ځير شي نو دا به ورته ښکاره شي چې هغه خبرې دَ نن ورځې له حالاتو او ماحول سره مطابقت لري. دَ دښمنۍ خبرې،د بې اتفاقۍ خبرې، دَ څوکۍ دَ شوق خبرې، دَ بُغض او کينې خبرې، دَ ناپروايۍ خبرې، دَ ترهګرۍ خبرې دا ټولې خبرې نن هم په پښتنو کښې موجودې دي. هغۀ دا خبرې په 1986 م کال کښې کړې وې خو هغه دَ 2010 م کال خبرې دي او دا به ترڅو چې دا دنيا ودانه ده او تر څو چې پښتانۀ دَ زمکې پهمخ ژوندي دي دا خبرې به زړې نۀ شي او دَ باچاخان فلسفه به دَ تل دپاره ژوندۍ وي.

د باچاخان نظر يو پراخ نظر ؤ، هغه هر څۀ ته متوجه ؤ . باچا خان دَ پښتنو دَ يووالي، اتحاد او اتفاق دپاره، دَ پښتون قام دَ سرلوړۍ او ترقۍ دپاره، دَ پښتون قام دَ حقوقو دَ ترلاسه کولو دپاره نۀ ستړې کېدونکې مبارزې وکړې. هغۀ په دې لار کښې کړاوونه وګالل ، هغۀ دَ خپل خوارۀ عمر ډېرې ربې ورځې دَ بنديخانو په تورتمونو کښې له تکليف او عذاب سره تېرې کړې. هغۀ دَ پښتون قام دَ سياسي، اقتصادي، فرهنګي، اجتماعي او ملي حقوقو دَ تر لاسه کولو په خاطر دَ يو سياسي ستر تحريك زبردست ټينګ بنسټ کېښود او له پښتنو ئې وغوښتل چې په دې بنسټ دپاسه دَ پښتون قام دَ بقا او ترقۍ عمارت جوړ کړي .

له ډېر افسوس سره بايد ووايو چې دَ باچاخان په دې فلسفه يا خو پښتانۀ پوه نۀ شول او يا هم پښتنو له بې پروايۍ څخه کار واخست . دَ باچا خان په فلسفه او دَ پښتنو په عمل کښې يو ستر تضاد موجود دے. پښتانۀ دا مني او په دې خبره پوهېږي چې باچاخان دَ پښتون قام يو ستر خدائي خدمتګار ؤ او دَ پښتون قام دَ عزت او حرمت دَ ساتلو دپاره ئې هلې ځلې کولې خو پښتانۀ دَ باچاخان دَ سياسي تحريك دَ پر مخ بوتللو په کار کښې پاتې راغلل. دَ باچا خان دَ سياسي تحريك دَ موټر پايې له کاره ولوېدې او چا ئې دَ ترميم او جوړولو فکر ونۀ کړو.

باچا خان په کال کښې يو ځل يادېږي، هغه هم په څو مختصرو غونډو کښې. باچاخان دَ پښتنو ګاندي دے. په هندوستان کښې دَ هندوستان له زرو مليونو نه زيات وګړي دَ مهاتما ګاندي دَ فکر او فلسفې پېروي کوي او هغه دَ خپل سرنوشت مشال ګڼي. په پاکستان کښې يو سل او پنځوس مليونه

پاکستانیان چې پښتانهٔ هم پکښې شامل دي دَ علي جناح دَ فلسفې په رڼا کښې دَ پاکستان موجودیت ته دَ احترام سرونه ټیټوي او درناوے ئې کوي خو پنځوس ملیونه پښتانهٔ دَ باچاخان له فلسفې څخه ناخبره دي. باچاخان دَ نړۍ یو ستر سیاست دان ؤ خو پښتون قام ترې ناخبره دے . هم دا سبب دے چې پښتانهٔ دَ سرګردانۍ په عالم کښې لالهانده او پریشانه ښکته پورته، یو خوا بل خوا لکه یتیمان بې اسرې ګرځي راګرځي. اوس ښائي چې دَ باچا خان دَ سیاسي تحریك دَ موټر پایې ترمیم شي تر څو دا موټر روان شي. مونږ ټول باید دَ دې پایو دَ ترمیم دپاره سره لاسونه ورکړو او په سیاسي بېدارۍ سره، له پښتني مینې او احساس سره دا ولاړ موټر په حرکت راولو.

قامي اصلاح او دَ مدرسو جوړول :

باچا خان دَ قامي اصلاح په فکر کښې ؤ، هغهٔ دَ قامي اصلاح دپاره قامي تعلیم ضروري او حتمي ګڼلو. هغهٔ دَ هم دغه هدف دَ ترسره کولو دپاره ښونځي جوړ کړل .

له باچاخان سره دا فکر ؤ چې پښتانهٔ باید په خپله ژبه تعلیم وکړي او شاګردان دې باید په دیني او ملي جذبه وروزل شي. په هم دې فکر هغهٔ دَ خپلو ملګرو په مرسته ډېرې مدرسې جوړې کړې چې په دې کار کښې ورسره حاجي صاحب، مخفي، مولوي عبدالعزیز، مولوي فضل ربي او زما نیکهٔ دَ اروانښاد رشتین بابا پلار مولوي تاج محمد خان نظري او عملي همکاري وکړه.

باچاخان دَ دیر دَ خال په کلي کښې یوه مدرسه جوړه کړه، باچاخان او مخفي صاحب پکښې دَ ښووونکو په حېث کار کولو ، په دغه مدرسه کښې په سلګونو شاګردانو سبق وئیلو . دَ ملاکنډ دَ پېرنګي پولیټیکل په وېنا دَ دیر نواب دغه ښونځے وران کړو. باچا خان او مخفي صاحب له دیر نه وشړل شول. باچا خان بیا په خپل کلي اتمانزو کښې دَ دوستانو په مرسته یو آزاد ښوونځے پرانیست.

په کال **1914** م کښې دَ ترنګزو حاجي صاحب سره دَ نورو ملګرو چې زما نیکهٔ مولوي تاج محمد خان هم ورسره ؤ آزادو قبائلو ته لاړل چې دَ انګریزانو په ضد خلق راپاڅوي . په دې وخت کښې دَ ترنګزو حاجي صاحب او دَ دهٔ ملګرو دَ ازادو قبائلو په سیمو کښې ډېرې مدرسې جوړې کړې . مولوي تاج محمد خان دَ ټولو مدرسو مهتمم شو او په مهتمم صاحب مشهور شو. دَ ګدر دَ دارلعلوم لومړنے مدیر مولوي تاج محمد خان ؤ.

انګریزان دَ باچاخان دَ اصلاحي فکر سره مخالف وو ، انګریزانو نهٔ غوښتل چې پښتانهٔ دَ تعلیم خاوندان شي، دَ باچا خان له خوا جوړ شوي ښوونځي او مدرسې ئې ورانې کړې او باچا خان ئې په هم دې ګناه څو څو ځلې زندان ته واچولو.

د افغانستان محترم جمهور رئیس حامد کرزي یو ځل په خپلو خبرو کښې دا یادونه وکړه او داسې ئې ووئیل: " کله چې باچا خان پښتنو ته ښونځي جوړ کړل نو پېرنګیانو هغه په جېل کښې واچولو."

اوس هم هغه حالت دے ، په سوات او دَ پښتنو په نورو سیمو کښې په سل هاو ښوونځي له منځه یوړل شول او په لك هاو دَ پښتنو اولادونه له درس او تعلیم څخه پاتې شول. دَ پښتنو دشمنان په دې پوهېدل چې پښتنو تعلیم ته مخه کړې ده، دَ دوي اولادونه تعلیم یافته شوي دي، دشمنان پوهېدل چې په پښتنو کښې لکه قدیر خان دَ اټومي وسلو

ماهران هم پيدا شوي دي، هغوي پوهېدل چې په پښتنو کښې قوي سياست مداران، دانشمندان او پوهان پيدا شوي دي نو ځکه ئې دَ پښتنو په زمکه اور بل کړو .

په افغانستان کښې دَ پښتنو په سيمو ئې بمبارۍ وکړې، په دې سيمو کښې ئې تعليمي، اقتصادي، فرهنگي، تجارتي او نورې حياتي چارې گډې وډې کړې.

په دې سيمو کښې ئې بد امني منځ ته راوړه . دا دَ پښتنو دَ دښمنانو کار دے چې نۀ غواړي پښتانۀ ترقي وکړي.

دَ پښتنو دشمنانو دَ پښتنو هېواد په دوو برخو ووېشلو، صوبه ئې جدا کړه خو دَ پښتنو په حقوقو ئې سترگې پټې کړې .

په پښتونخوا کښې ئې پښتانۀ په خپله ژبه له تعليم څخه بې برخې وساتل . باچا خان غوښتل چې پښتانۀ په خپله ژبه تعليم حاصل کړي خو دَ باچا خان په دغه ستر ارمان باندې خاورې واچول شوې. باچا خان غوښتل چې په وطن کښې دَ علم او پوهې له لارې يو انقلاب راولي او دَ دې انقلاب دپاره دۀ غوښتل چې عالمان او پوهان وروزي . باچاخان به چې هر وخت دَ قامي خدمت بېرغ اوچت کړو نو دَ دشمنانو له خوا به ونيول شو ، بيرغ به ئې ورته ځيرې ځيرې کړو او دے به جېل ته واچول شو خو سره له دې بياهم باچاخان تر مرگه دا مبارزه جاري وساتله او چا ئې مخه ونۀ شوه نيولې. دَ هغۀ مبارزه يوه حقيقي او دَ خلقو دپاره دَ خدمت مبارزه وه ، باچاخان په مال او دولت خرڅ نۀ شو ، باچا خان خپله پښتو او خپل پښتون قام دَ منصب او مقام په مقابل کښې خرڅ نۀ کړل. هغۀ خپل عزت وساتۀ، هغۀ خپله پښتو وساتله، هغۀ خپل احترام وساتۀ.

کوم عزت او احترام چې پښتنو دَ باچاخان کولو ، هغه عزت دَ باچا خان نه پس دَ بل چا نۀ دے شوے . په داخلي او بين المللي سطح چې دَ درنښت کوم مقام هغۀ حاصل کړے ؤ ، هغه مقام بل چا تر اوسه حاصل نۀ کړے شو . هغه يو نابغه رهبر ؤ.

دَ باچا خان مقام ته څوک رسېدلے نۀ شي، باچا خان دَ پښتنو له دشمنانو سره هيڅ پټه او ښکاره معامله ونۀ کړه، هغۀ په دولت کښې دَ کوم مقام غوښتنه ونۀ کړه او نۀ ئې دَ چا غوښتنه ومنله . هغه په خپله يو مقام ؤ ، داسې مقام چې هيڅ مقام ته ئې رسا قد ټيټ نۀ شو . هغۀ په عزت ژوند وکړو او په عزت سره له دنيا رخصت شو . باچاخان دَ سياست يو پوهنتون ؤ، باچا خان دَ علم او پوهې يوه مدرسه وه ، باچا خان دَ اخلاقو او انسانيت يو مرکز ؤ. په دې پوهنتون ، په دې مدرسه او په دې علمي مرکز کښې ډېر خلق وروزل شول او وپالل شول.

باچاخان دَ ورورولۍ او عزيزولۍ خبرې کولې . باچا خان چې په افغانستان کښې ؤ نو هغه دَ افغانستان ټولو سيمو ته سفرونه کول ، هغه به په ښارونو ، کليو او بانډو گرځېدۀ، له ټولو اولسونو سره به ئې ليدل کتل کول، له پښتنو، تاجکو، هزارۀ، ازبکو، ترکمنو، نورستانيانو او پشه يانو سره به ئې ناسته ولاړه کوله او ټولو ته به ئې دَ افغانانو په سترگه کتل. هغۀ به له ټولو سره دَ يووالي او اتحاد خبرې کولې، هغۀ به له اولسونو سره دَ عزيزولۍ او مينې محبت قيصې کولې.

پاتې په بله گڼه کښې